ليکوال: اقبال انصاري

ژباړونکی: دوکتورعبدالخالق رشيد

۲۰۲۲/۰۷/۱۳

# وروستنی پټان

## د جهانسي جنګیالی ملکه او ورسره مل پښتانه جنګیالي

## (تاريخي ناول)

## لومړی برخه



**ليکوال:**

**اقبال انصاري**

**ژباړونکی:**

**دوکتورعبدالخالق رشيد**

نوی ډيلی: ۲۰۰۲ کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په ځیر و لولـئ

------------------------
آخری پټان (ناول )
مصنف: اقبال انصاري
قیمت: يك سو پچاس
سن اشاعت : ۲۰۰۱
کمپوزنګ : رهبرکمپوترز ، ۲۹۳۶ ، کلان مسجد،ترکمان ګيټ ، دهلي _۹۱
پبليشر : محمد شيراز انصاري
ملنې کاپته: محمدشيراز ، ايف ۱۷۶ ، پانډونګر، دهلي _ ۹۱
---------------------------------------------



ډالۍ
دهندهغوپښتنواتلانوته چې دهند دآزادۍ پرلامل يی په ۱۸۵۷ کال کې داسې کارنامې دهندوستان تاريخ ته پريښودې چې اوس يې ياد يوازې په کيسواوحماسوکې ژوندکوي !

پروفيسور رشيد

لومړی څپرکي




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دسون ریکا سیندګي پرغاړه ، دمولسري د هغې شنې خوخواشینې ونې ترسیوري لاندي په ناستو ناستو ماسپښنین را برسیره شوی و... خود ګل محمد لا تراوسه هم پته نه وه اولاهم بیرته نه و راستون شوی ...
_بیرته ... ؟
رانۍ همدا نیمګړي تکي په زړه کې سره تاوول ... چې بیایې پرذهن باندې دیوې بلي پوښتنې څپه راغبرګه شوه ...
ـ هغه به کله راځي ؟
دایوه خورا مهمه پوښتنه وه،هوخورا درنه اودپاملرنې وړ... چې ځواب یې په خپله له دې سره هم نه و.
دپنځوتورو دغې کوچنۍ پوښتنې دهغې پرزړه باندې دیوه درانه درد څپه راخوروله،دې ددغې پوښتنې اوریدل نه غوښتل اونه یې دهغې په ځواب کې دځه ویلوهیله درلوده، اوکه یې درلوده هم ،له ویلواونه ویلویې ګټه څه وه ... پوښتنه د درنې ډبرې په شان له خپلې ټولي بې دردۍ اوبې رحمۍ سره همداسې درنه پرته وه، پرزړوېې خپل درونډوالی اچاوه، خواشیني یې راتوروله اوذهن یې بې له شکه دتوپان منګولوته په لوی لاس دڅا خبره ورتېل واهه.
ګل محمد دهغې په سترګوکې ته اوراته ... ګل محمد ، دهغې دنازګل محمد دهغې دکتوپه وړاندې و.هو، دهغې دکتواویادواودهغې ددردومل اوملګری !
دهغې ټول ملګري هریودیادواوخاطرو ملګرې اویاران وو... په هغوکې داسې کسان هم وو چې هغوی په رښتیا هم د ښو ورځو ښه اوهمداشان په خواشینوکې دبدو ورځودتسلاوویاران وو... اوډیر ډیر په کې دخواشینواوبدوورځومله اویاران ...
رانۍ په خپله هم دخواشینیوبوج شوې وه ، خوهغوی په همدغو حالاتوکې هم نه کومه سرټکونه کوله اونه یې هم له چانه کومه پوښتنه درلوده. وړې به ګرزیدل خوڅاته یې دیوې ګولې ډوډوۍ له پاره لاس نه اوږداوه، تږې به ووخوڅاته یې دیوه غړپ اوبوله پاره خواست په خوله نه راته،ټپونه به یې اخیستل خو له خولې یې اف هم نه راووت ،مرګ به یې دیوې تلپاتې ډالۍ په توګه دځآن دویاړپه توګه مانه اوزغامه . هو،هغه څومره نیکمرغه وه چې داسې ملګري بې مله شوي وواوهغوی څومره بدمرغه ووچې داسې یوه واکمنه اوداسې یوه رانۍ اوس دوی ته وردغاړې شوې وه !...
- او اوس داګل محمد !؟ ... هغه به بیرته راشي ؟
اوداهماغه سخته اوبې رحمه پوښتنه وه چې یو وار بیا یې د رانۍ په ذهن کې خپل سرراپورته کړی و، اوهمداوه چې اوس یې دهغې ذهن اوخواشینی زړه په یوه وخت کې په خبروسره راوستل :
- ښه ، ښکارې چې هغه بیرته نه راځي ... ای ربه ګل محمد رانغئ ...
دهغې خواشینې اروا ددې دعا ومنله اودایې ورته راغبرګه کړه :
ـ ګل محمد بیرته راځي،که چیرې هغه رانه شي نوبیا به څه وشي ؟
... هغه ته به زما له خوا څه ورپه برخه شي ؟ له لوږواوتندو ، ستومانیواوکورپه کورګرزیدنو،سرګردانیو، زخمونواووینوپرته هغه له ما نورڅه لیدای اوترلاسه کولی شي ، ما هغه ته څه ورکړل؟
زه به هغه ته اوس څه ورکړم ؟ ...
خوهغه ماته زیات څه راپه برخه کړي دي . ماهغه ته څه ورکولای شول ؟ ماهغه ته دوې اوربشینې ډوډوۍ هم په خپل وخت ورنه شوې کړای ... زه څومره بدمرغه یم ... ښه شوه چې هغه له ماولاړ... ښه دی چې هغه بیرته راونه ګرزي ... پریږده چې هغه لرې ولاړشي ، هو، ښه لرې ... هلته چې کورپه کور ګرزیدل نه وي ، هلته چې دتوپونو دربهاراوانګازې آرامې وي . هلته چې دتورو خرپهار نه وي ...زخمونه نه وي .مرګ نه وي، وینې نه وي ، نه دخپلو اونه دپردیو، هلته چې کینه نه وي ،ځان غرضي نه وي، درواغ نه وي، مکاري نه وي، غداري نه وي. هلته چې ځوك په خاوره باندې سوداګري نه کوي. هلته چې دڅا خاوند دهغې په مخکې په تورو سوری سوری نه شې . هلته چې میرمنې دخپلي حیا اوعزت ساتلو په خاطر په خاورو اوخاګانو کې ونه موندل شي . هلته چې ځوك له خپلو خپلوانو سره خطرناکه دوکه اودرغلي ونه کړي . هلته چې دوه لاري او دوه رنګي نه وي ، هلته چې له څوه ځوك پرخپلوباندې ګولۍ نه اورروي . هلته چې زورزیاتې او وژنه نه وي ،هو، هلته باید ګل محمد ولاړشي چې هلته ژوند دومره تریخ نه وي، هلته، چې ساه اخستل پرڅا غم نه وي ،هلته چې یوځوك یې قدروکا، هلته چې لږترلږه دخپلې وفادارۍ میوه خوترلاسه کړي ، هلته چې دده سهارونه د ورځې له غیږې راپورته شي ،هلته چې شپه یې دماښام دخواږه خوب آرام هرکلی وکړي .هلته چې لکه دنن سبا بدمرغه بندیل کهنډ غوندې نه وي ، هلته چې د اوسنۍ خواشینې جهانسې په شان نه وي ،هلته چې له ننه لرې وي،هلته چې دراتلونکو له پاره دډار اووحشت ځاله نه وي اوهلته چې ژوند دومره ستومانی اودومره دروند نه وي ...
ای پاکه ربه ګل محمد راستون نه شو، هعه لکه چې پرهغه خواشوچې هلته ... دا له باوره لرې اوناشونې خبره وه چې هغه دې ، د وروستې پټان (پښتون ) تروروستۍ سلګۍ پورې زه یوازې پریښې وای اوله مادې تللی وای . هو وروستې پټان ، هو، وروستې پټان ... په دې چې لومړنی پټان همدی و چې د وفادارۍ لوړتیا او ویاړ یې له نامه سره غوټه شوي او همداسې ورسره مل شوي و...
اوهغه بریمن انسان زه یوازې پریښودم ... هو، داڅومره خواشینونکې کیسه ده...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

نه ، داسې ځوك لكه بريمن ګل محمد كله هم ددې له پاره خداى نه وپيداكړى ،چې همداسې دې خپله مخه ونيسي اومادې يوازې پريږدي ، نه ، هغه بيرته راځي ،كه هغه مرګي حال هم وي ، هغه بيرته راځي... كاشي بايي يوه ورځ داخبره كوله چې ګل محمد يې خپلو سروكرتيو والو ملګروته ويل : پښتون د وفا له پاره پيداشوى ،وفا به پرځاى كوي اوپرهغې به مري ... !
ګل محمد رښتياويلي وو، دهغه ټول ملګري هغوى چې په راحت ګړ اوشاوخوا سيموكې دبري اووفا په نامه شهيدان كيدل ،پرهغه مهال يوه هم ځان په يوه اوبله پلمه الونيا اوغلى ونه نيو.اويوه يې هم ډګرغليم ته ورپرې نه ښود. ديوه پرشا هم ګولۍ ونه لګيده . دګل محمد دملګرو سينې ګوليو ته سپرشوې، اود دښمن ګوليو ته يې تل خپل ټټرونه مخامخ ونيول ، هغوى هريوه دګوليو ننداره دګوليو اوتورو دبرښناو په ميدان كې په خپلو سترګوليده خوپه دغه حال كې هم دهغوى يوهم يوقدم را په شانه شول،اوهغوى په دې پوهيدل چې دمرګ پرخوا نه بلكه دژوند پرلورخپلې هيلې خوځوي... اوهغوى څومره ليونې خلك وو... !
يو يو راغورزيده اولويده ، يويومړكيده اورالويدل ، ژونديويې دبلهارو ملګرو زخمونه اود وينوداري په سترګوليدې ،خوبيايې هم د سربښندنې په دغه لاره كې ديوې آه ، اويوه ساده اخ غږ په شونډو نه راغبرګيده. دهغوى آه اوفرياد نه و زده، هغوى په ډارنه پوهيدل ... دهغوى په ارادو كې دكمزورئ نښې نه وې ... دهغوى حوصلو اوزغمتيا ماته نه منله، دهغوى په همتواوغيرتوكې دپستۍ څرك نه لګيده،دهغوى په جوش اوپاريدنګ كې سوړوالى نه و، اويوازې داټكى وچې دهغوى ارادي دشهيدو ملګروپه قربانيو اوځان تيريدنو سره لاپياوړى كيدې ،دغيرت اوزغمتيا اندازه به يې نوره هم لوړيده اوهمت به يې نورهم اوچتيده ،دهغوى پاريدنه اوپرتم به يې لوړاوه اوپه دې توګه به يې دخپل همت لاره دژوند ترسرمنزله پورې په سرلوړئ سره رسوله ، چې كله كله به لا ترهغې هم آخوا اوښتل اوپرمخ به روان وو.دهغوى دزيات شميرنومونه ماته نه دي معلوم، تاريخ به هم دهغوى نومونه كله ونه ليكي ،په دې چې د دوى هغه وياړونه اوكارنامې به كله هم چاته ورمعلومې نه شي،هغه چې دوى د هغو په ترڅ كې خپله لاره په خپلې وفادارۍ سره په خپلو وينوباندې وليكله اوپه خپلووينويې ښيرازه كړه.هو،تاريخ به هغوى ونه پيژني،هغوي بلهاري شول ،خوله تلپاتې وياړونوسره.
اى پرمورنۍ خاورباندې بلهارو ! اى چې په خپلو وينومودقربانۍ اوبلهارى وياړ يادګارشو،ستاسې دغه په غم كې ډوبه رانۍ ستاسې په وړاندې د درناوي اوارادت سرټيټوي ، ستاسي نوم اخلي ، اوپه دعا لاسونه نيسي ... ستاسې بلهارې ارواوې به دمنښت پرآسمان باندې دستورو په شان تلپاتې ځلاوې كوي ،تاسې دعبادت داستازو په شان ددرناوي وړوئ ... تاسې دمورنۍ هيواد دنمانځنې اودرناوي اوچتې بيلګې وئ ... كاشي بايي به داخبره كوله، چې ستاسې سردار ګل محمد به ويل چې دوطن په خاطر سربښندنه اومړينه دژوند ترګردو وياړواوچت وياړدى ...ددنګ غره په شان خاموش سردارمو دسمندرپه شان دپراخ زړه خاوند دى ...
خو اخ اوس ووايئ چې چيرې ولاړاوپركومه خوا شو؟ ... كومه پيښه وه چې مور يې په ژوندوني سره بيل كړو؟ ... هو، سمه ده ،تركومه لوړې اوتندې ؟ اوتركومه داجنګونه اوداجګړې .. داد څه اوكومې هيلې له پاره ؟
هغه پاك زړې اوربنتيني پښتون زياتې سختۍ اوستونزې وګاللې ، دهغه حوصلو بې شكه چې پردغو لوړو اودنګوباندې باندې بريمن قمارونه ووهل ، سختې ستونزې دغه انسان پرسرواخستې ، دڅلور سوه نهه نوي خپلوانو سربښندنه يې يوه روښانه بيلګه اونښه ده ،لوى خداى دى داسې لويه ستونزه نوره ده ته نه وراړوي اولوى خداى دهغه له هره غمه اودرده لرې وساتي....
رانۍ خپل څلور سرداران ، په خپلې غيږكې لوى كړى زوى داموردراوهلته دمندر خواكې وليدل ، هغوى ټول هلته په يوه خواكې دګولر تركڼې ونې لاندې ځوړند سرونه خواشيني سره ناست وو،دهغو پرڅيرو باندې ستومانۍ خپل وزرونه غوړولي وو،ګردونه وو، لوږه وه خوسرتكاوى بياهم ديوه له خولې نه خوت ...بيزاري يې نه ښوده اوخواشيني يې نه څرګندوله ...
لويې خو په دې كې وه چې دخواشينۍ اوغم په دغه فضاكې هم هوډې روحيه ،اوپرانيستې اوچتيا دهغوى پرڅيرو باندې برلاسې وه . لايې هم دهرغبار څپه په خپل زور سره څيرله اوله خپلې مخې يې لرې كوله، دهغوى په سترګوكې ديوه خوب سلسله هم نه راګرزيده ، دپرديسۍ اوخوارۍ په هغه حالت كې هم ددوى پركوم شي باندې پروا نه وه ،له هغوى يو هم دناهيلۍ اوناميدۍ ښكارشوى نه و، عمل كول، دهغوى دكركترونواوشخصيتونوځانګړتياشوې وه،زغمتيا اوګالنه ،دهغوى مزاج ګرزيدلى وه ،سختيوهغوى روزلي وو، ستونزى له هغوسره هره ورځ ملې وې ،وفاداري دهغوى كردار وه،هغوى ټول درانۍ لكشمي بايې ليونيان وو، دجهانسې ليونيان وو، اودهندوستان ليونيان وو...
هلته لرې اسونه څريدل،په هغوكې درانۍ اس هم و، اودګل محمد هم .
- دكومې هيلې اوكوم مطلب په خاطر دغه كسان لاتراوسه هم زماسره دي ؟ اورانۍ له يوه اوږده اوسيلي وروسته، دغه پوښتنه دزړه له كومي له ځانه وكړه :
- هغوى په دې پوهيږي چې مرګ نور په دوى باندې خپل څپاو ور وړي ... د دوى دژوند ليلى نوره دژوند وروستۍ كندې ته وراچوي ... په دې پوهيږي چې له ماسره نور ددوى پاتې كيدل ديوه ناڅاپې پاى پر لور د دوى روانګى دى ... خودوى بياهم له ما لاس نه اخلي او دماپريښودوته تيارنه دي... كه زه هغوى ته ووايم چې نوره ماپريږدى په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له رااليرلو مخكې په څير و لولئ

هرخواچې لاره ایستلای شئ لکه چې ګل محمد پرې ولاړ، تاسې هم کولای شئ ولاړشئ خوزما باوردی چې له دې سره سره هم دوی ما نه پرېږدي اوله ما به ولاړ نه شي،داځکه چې دوی سپېڅلي دي ،زما دي ، زما دارادو برخه دي ،زما دتاریخ رنګ دي ... په دې سپېڅلو اتلو کې خو ګل محمد هم دی ، هغه هم زما خپل دی ... زما دژوند یوه برخه دی اوزمادتاریخ رنګ دی ...

هغه زه پرېښودم... هغه یې ښه وکړل ،هو، ښه شو چې ولاړ، ماله خپلو وفادارانوسره څه وکړل ،بدمرغۍ مې ورکړې ،ستونزې مې ورپه برخه کړې ،ماهغوی بې کوره کړل ،مادهغوی په ښنوکې زولنې ورواچولې ، په زړویې ما غمونه ورپېټې کړل ،ما زخمونه ورولګول ،مامې دغو خواخوږو ته مرګونه ورپه برخه کړل ،هغوی چې برعکس ماته دهغو په مقابل کې ژوند راکړ، هغه ژوند چې د دوی په مرګ باندې ماته تمام شو... زه څومره بدمرغه یم، زما له تا ای ګل محمده کومه ګیله اومانه نه شته تازیات ښه وکړل چې ولاړې ... پاك الله دې وکا چې ستاداستونزې پای ته ورسیږي . خوشاله اوسرلوړی اوسې ...اوږدعمردې په برخه شه ،زمادعا له تاسره ده،سرلوړی ، تلپاتې اوژوندی اوسې ....

رانۍ لکشمي بايې هم هلته تم شوه،اوهغې تورې تیږې ته یې چې سریې له ځمکې راپورته کړی وتکیه ورکړهسترګې یې پټې ونیولې ، هغې له ژونده ګیله اوسرټکونه نه درلوده ،ولې به یې درلوده ؟ ژوند هغې ته له شمیره زیاتې اوچتیاوې ورپه برخه کړې وې ... اوداخوبیا بله خبره وه چې دهرې اوچتیا وروستي سرمنزل دیوه زړه ماتوونکي پای لارې څارلې اودهغه هرکلی یې کاوه ...

دویم څپرکی



دمقدس ګنګا پرغاړې دخورو ورو پرتومالتو، پانو اودبسم الله خان دشهنایې ښارکاشي له پخوا تراوسه دهندوستان دمقدسو ښارو په لړکې په پرتم اواهمیت سره پاتې دی، غه مقدس ښارد(بنارس ) په نامه هم یاد شوی ، چې د ورانسي په ورانوکنډوالوباندې لاولاړدی . ورانسي ددووسیندونو(ورونا) او (رسي ) دنومونوله پیوستون څخه جوړشوی نوم دی چې ددغه ښارپه شمالي اوجنوبي خواووکې بهیږي . له مذهبي روایاتو سره اړوند له پخوا دغه ښاردکاشي په نامه سره هم یاد شوی .دکاشي ښار مانا (د رڼاوو ښار) دی ، شپږ سوه کاله له میلاده مخکې بودا دلته راغی،دبرتمینو مندرونواو(۵۸ ) کیلومترو په اوږدوالي خورشوی ښاریې د سانسکریت ژبې دښوونې او روزنې دیوه مهم مرکزپه توګه خپل یادګار پرېښود ...

د زمانې په تیریدو سره په کاشي کې خورا زیات بدلونونه راغلل خود تاریخ په سینې کې کاشي لکه دخوځنده زړه په توګه خپل اهمیت همداسې درلود. نن هم هماغه پرتم لري اوسباته به یې هم دغه پرتم همداسې پاتې وي اوتاریخ به ددغه ښاردتاریخي اهمیت رښتنی څرګندوی اوشاهد وي .دتیروتیرواوهمداسې دغلامۍ د دور،دجګړو، کوششونو، آزادی ، پرمختګ اونورې بې شمیره ترقۍ داګردې هغه څه دي ،چې اغیزیې پرکاشي باندې هم په بې سارې توګه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

راخورشوی اودغه ښاريي دبدلونوجوګه کړی دی . له ننه (۱۶۵ ) کاله مخکې يعني په ۱۸۳۵ کال هم ددغه ښارپه زړه کې ګنګاه بهيده ،خوهغه درنو اونرمواوبومهربانه ګنګا و، هغه مهال دکاشي سهارونه دنن سبادګنګاترسهارونو زيات ښکلي وو، دهغې زمانې دکاشي آسمان شين اوتوربخن شين و، اولکه داوسمهال کاشي داسمان غوندې يې آسمان ګردجن اوککړنه و. ننی کاشي خو ديوې تورتمبې ( بيروبار) نوم دی ، خودهغې زمانې کاشي يوپه زړه پورې رونق درلود ، هغه کاشي له يوې ځانګړې تازه ګۍ سره غاړه غړوله، هلته مړاوی والی نه و، اوفضا خپله نرمي درلوده، هلته ناداني نه وه ، هغه مهال دکاشي پرآسمان باندې دلمرځلاندې وړانګې پرهرسړي باندې ښې لګيدې ، بدې نه لګيدې... د ۱۸۳۵ کال کاشي هم له اوسني کاشي سره زيات توپيردرلود ، د۱۸۳۵ کال په هغه رنګين کاشي کې ديوې لمرينې ورځې په غيږه کې يوې ښايسته نجلۍ دغې دنياته سترګې راوغړولي چې نوم يې (منو) پرې کيښود.

منولا څلورکلنه شوې نه وه چې دمورله مهربانۍ بې برخې شوه،پلار يې(موروپنت )هغه له ځان سره ونيوله ، له هغې سره بتهورته ولاړ اوهلته يې له بالاجي پيشوا سره استوګنه غوره کړه .منوهم دلته په بتهورکې وه چې دنجلتوب دژوند پرزينو باندې يې ناسته پاسته پيل کړه .هغه په همدغه مهال کې دخپلو همزولو نجونې په ډله کې بې جوړې اوتل به دنجونو ميره وه ، په منډوترړو ، شوخيواوهرڅه کې دخپل عمرترنجونو زياته مخکې وه . زياته ځيرکه وه، اوزياته ښکلي هم وه . ددې دغې ځيرکۍ اوښايست ته به چې هرچا کتل ،نوښه به ورباندې لګيده ،هغه له حده زياته ذهينه اوپوه وه ، دهغې پوهې اوځيرکۍ ټول حيران کړي وو.منوچې ځومره لويده دومره يې ښايست اوپوهه هم ورسره زياتيدل .چا چې داپيژندله اوله دې سره به مخامخ کيدل،نوټولو به له ځان سره دا سوچ کاوه چې دوی نه پوهيږي چې دغه نجلۍ له حده زياته ذهينه ده اوکه زياته ښکلې ؟

دهغې په ښايست اوذهني وده کې دهرې ورځې په تيريدوسره زياتې راته،خودهغې ښکلا نه دهغې ذهن پيکه کولای شو،اونه يې هم دهغې له ځيرکۍ سره مرسته کوله، ځکه چې دغودواړو توکونو دبيلو اوخپلواکوتوکونوپه شان ځآن په خپلواکه توګه په دې کې ځلاوه ،له هردنظرله خاونده به يې خپل فکرپياوړی کاوه ،دهغې لوړتيا اولويي بې ساري وه ، دخپل عمر دنجونوپه منځ کې هم دا اتله شوې وه ، دحيرانتيا خبره خوداوه چې دهغې ټولوهمزولواودوستانوله هغې سره دسيالۍ خيال درلود، غوښتل يې سيالي ورسره وکړي،خوپه عين حال ددغې سيالۍ په ترڅ کي له هغې سره دهيڅا په زړه دکينې اورخې خبره اوفکرنه ورتيريده.

په ميرانه کې بې سارې وه ...

په زړورتيا کې بيلګه وه ...

هغه دښځمنتوب اواتلولۍ په زړه پورې تومنه وه اونښه ...

هغه يوه نادره ډالۍ وه ... داسې چې په انساني څيره کې قدرت جوړه کړې اوپربنديل کنډيې لورولي وه. له کاشي سره اوس دهغې تړاوشليدلی و، په دې چې هغه اوس دبنديل کنډ لور وه اودبنديل کهنډ خاوره دهغې موروه.

بنديل کنډ اوس پرخپلې دغې لورباندې نازيده.

بنديل کنډ اوس دمنو دزړه آواز و،

منواوس دبنديل کنډ روح وه .

اوبيا ... يوه ورځ منواوبنديل کنډ له يوه اوبله پرته ناشوني وو،دوی دواړه سره اړيکن شوي وو،. په ديارلس کلنۍ کي يې دجهانسي دراجا (ګنګادهرراو) سره واده وشو، اوله دغې منو څخه بيا لکشمي بايي جوړه شوه .

په شپاړس کلنۍ دزوی مورشوه ... دګنګادهرراو د وارث ،دجهانسي دشهزاده اوراتلونکي راجا...

ګرده جهانسي دناوې په شان سينګارشوه اوددغه جشن مراسم په خوراپرتم اوښکلا سره پيل شول ... ناستې پاستې تودې شوې ، دخوشۍ سندرو خپلې انګازې پورته کړې ، دغه سندرې لا آرامې شوې نه وې چې د را جکمار (شهزاده) ورځ پوره شوه اوله دريو مياشتووروسته يې له نړی څخه سترګې پټې کړې ...

دښکلااوپرتم هغه ټولې تودې اوخوږې سندرې آرامې شوې ...

خوشالۍ مړې شوې ...

اړيکي اوخپلوان په دغه ويرسره ټول نيمه خوا شول ...

اوجهانسي په مرګ لاهوشوه ...

په دې چې راجاګنګادهر راوهم ومړ.مرګونی ناروغۍ هغه له پخوا څخه په خپلومنګولو کې راښکيل کړی و، خو، د زوی له مرګه يې وروسته نورهم په خپلومنګولو کې راکلك کړ.له هرځل ټوخي سره به يې له خولې وينه راماته وه ،هغه له رانۍ سره مشوره وکړه اوپه مشوره يې يوهلك له خپل ذات اوټبرڅخه په خپله غيږکې ونيو، هغه انندراو نوميده ، دهغه په زوی بللوسره يې پرهغه باندې د ( دامودراو ) نوم کيښود چې په همدغه نامه سره بيایاد هم شو.

دامودراوهم ونه شوای کولای چې دراجاګنګادهرراوغمونه اواندیښني له هغه واخلي اويايې ترې په يوه خواکړي .

هغه يوه ورځ سهاروختې له خوبه پورته شو.خپل حالت يې خورا وران احساساوه ،څوشيبې يې انتظارويوست ،بيايې دګنګا اوبه وغوښتې ، رانۍ لکشمي بايې خپل کين لاس ترغاړه ورتيرکړ، کرارکرار يې راپورته کړ،دګنګا اوبه يې ورباندې وڅښې اودهغه سريې بيرته په آرامۍ سره په سرويږدي باندې کيښود .

دراجاصاحب ترخولي د (اوم دهري ) آواز راووت اوژوند يې له بنده په امن او آزادۍ شو.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

درانۍ لکشمي بايې پرنړۍ باندې تورتم راخورشو، داتلسوکالو په عمرکونتون په خپله يوه دنه منلوورخبره وه ، په دې چې لړموده وروسته بياداپه خپله نه پوهيده چې پردې باندې کومه کانه وشوه ،اوژوند ولي داسې يوه وحشتناکه ټوکه ورسره وکړه .هغې تراوسه دژوند په دغه موده کې څه ليدلي وو؟ ...

اوهغې اوس ځان ديوازيتوب منګولوته ورسپارلی اوډالۍ کړی و.

خوداپوښتنه هم ورسره وه چې دلکشمي بايې اويوازيتوب څنګه سره کيدای شوه ؟ په دې چې هغه يوازې لکشمي بايې نه وه ، هغه اوس دجهانسي رانۍ هم وه ... دهغې ژوند دجهانسي له پاره و... اوجهانسي اوس ويرجنه وه ... خوهمدغې ويرجنې جهانسي اوس هغه په خورا بيړې سره خپلې خواته ورځيرکړې وه...

رانۍ لکشمي بايې اوس په خپل چارچاپيرکې ويرجنې ، خواشينې اوغم لړلي جهانسي ته وکتل... اودخپل اوسپنيز هوډ په پياوړو لاسونويې دخپل ګډوډژوند ، دخپلو ارادو اصلي موخي وټاکل اودهغو په سمون باندې په پوره هوډ سره بوخته پاتې شوه، دې هغو اوښکوته چې په ناامیدۍ سره رواني وې دپاکولو تکل وکړاوخپله ملايې کلکه ورته وتړله ،هغو اوښکوته چې په ژوند يې دمرګ سندرې ويلي ، دې دهم هغو د دردو دپای ته رسيدو خوب په خپل ژوند ترهرناورين دمخه ليده.

هغې به له خپل ځآن سره ويل :

_ منو واوره ... ته اوس منو نه يې ... ته اوس په هغې مستۍ کې نه يې لکه چې وه دې ، هغه هيره کانده ، ته اوس لکشمي بايې يې ... ان چې لکشمي بايې هم نه يې ... ته اوس دجهانسي رانۍ يې ... ستا ژوند کله ستادی ؟ ... هغه خودجهانسي دی ... ته بايد هغې ته ژوندۍ واوسې ، ته بايد دجهانسي له پاره مړه شې ، هو، يوازې دجهانسي له پاره ...

هغې ديوازيتوب اوپرديتوب په خبره باندې درنه تيره کيښوده اودخپلو خلکو داوښکو پاکول يې دخپل ژوند هدف اوموخه کړل اودخلکو غم يې خپل غم وباله . دخلکوخوښي يې خپله خوښي وبلله،دخلکو آرامي اوهوسايي يې خپله هيله وګڼله، دخلکوژوغورنه يې خپله ذمه واري وبلله . اودخلکو اوچتيااولويي يې په خپل مخ کې خپل فرض وټاکه ...

دراجا له مرګه وروسته دهغه دواکمنۍ هرڅه د رانۍ په تنکيو اوږو باندې ورولويدل، چې خامخا يې درانۍ پراوږو باندې درنښت ور اچاوه ، خودا دومره پياوړې وه ،چې دغو ګردو ذمه واريوته يې ملاوتړله اوهغه يې پرځان ومنلې ،ټولو فکروته يې په خپل سرکې ځآی ورکړ ، خپل ځآن يې ټولو ستونزو ته ورلاهوکړواوټولو ستونزو ته يې په کلکه توګه خپل همت ونيو .

له دې ټولو سره سره دايوه خبره ګرد سره روښانه ده هغوی چې تاج پرسرايږدي ،له هغوی سره دکرکې اوکينې دروندوالی هم مل وي ، دلکشمي بايې پربې ګناوتنکي سرچې کوم تاج وهغه هم ددې پرسر باندې يوڅه دروندوالی کاوه ،دهغې تيزو اولرليد ليدونکو سترګو داښوده چې دهغې پرشاوخوا باندې دبدمرغيو کړی راچاپيريدونکي ده ، په دې چې هغې ته دهغو حالاتو اوبدمرغيو پرتندې باندې دناځوانو بې درديو نښې اونښاني له ورايه بريښيدې ، دحالاتوپه زړه باندې دسخت زړۍ څپې ورننوتې وې ځکه دهغو حالاتوانعکاس ددې پر لورې خورا بدمرغه اوبدشګومی و.

انګريز پرهره خوا خپلې جرړې زغلولي وې ... پرګرد هندوستان باندې يې دخپلې واکمنۍ دپياوړتيا په خاطر په هرډول کړووړو باندې لاس پورې کاوه ، جهانسي ته خويې له پخواسترګې نيولي وې ،هغوی په دغه برخه کې اټکل نه کاوه بلکي په دې پوره باوري وو، چې دجهانسي له زواله وروسته به ټولي سيمې لکه بتهور ، اريې ، کالپې ،مورينا، ګواليار .شيوپوري ،بهند ،دتيا، للت پور ، ګنا،ټيکم ګړ،چترپوراونورګرده زوال مومي .

زور واکي زغمونکې اودپرديوښکارشوی انسان په ډيرو وختونکې له خپلې لوړتياپريوه خوا پاتې کيږي ، ديخوسيموخلك اويا په بله وينا دساړه دماغ لرونکي وګړي بيادغلامۍ کولودښکار په نوښت کې خورا ماهردي ،دحکومت کولو اودهغه په عملي کولو کې دهرډول منصوبې اوهلوځلو په پام کې نيولو سره پاخه ګامونه په سړه سينه اوساړه دماغ سره پورته کولای شي. دوی په دماغوکې اوچتې منصوبې جوړوي اوښې يې جوړوي...

دوی په خپل ساړه دماغ سره دبې رحمۍ اوچت اودپاملرنې وړحرکتونه کولای شي اوپه زياته اندازه سوړظلم چلولای شي ...

انګريزانوهمداسې وکړل ، هغوی دهندوستانوهره کمزوري په ډاډاوسړه خوا سره په خپله منصوبه بازۍ کې راښکيل کړه ، کرکي يې را وپارولې ، جنګونه يې وهڅول ، نفرتونه يې راوتورول ، نظرياتې بې اتفاقيوته يې لمنه ووهله ، هيواد يې کمزوری کړاوځان يې پرې باداری ته ورساوه .دوی دباداری له پاره قانون جوړونه وهڅوله ،دباداری قانون يې جوړکړ خو دغلامانودهوسايي له پاره نه ،بلکي دخپلوګټوله پاره . په ۱۸۵۴ کال کې ، دختيز هند کمپنۍ حکومت داسې قانون راويوست چې دهغه له مخې يې پرجهانسي باندې دحکومت کولو حق هم دځان کړ. انګريزې ايلس دګورنرجنرال ، دغه حکم ترکلاپورې ور ورساوه ، رانۍ دپردې شاته ورغله ، ايلس فرمان له خپل جيبه راويوست ، کرارکرار خو په لوړ آواز يې هغه ولوست ، اوټکي پرټکي يې رانۍ ته ور واوراوه .ټول دربار ددغې اوريدنې له پاره هلته حاضرو، درآنۍ پلار مورووپنت خپل سرپه خپلو لاسوکې ونيو، درګهونات سترګې سرې شوې وې ،دبهاوبخشي رګونه داسې رپيدل چې نښې يې دهغه پراننګو باندې له ورايه ښکاريدې ، دغلام غوث خان رنګ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

اورګونه دومره سره شوي وو چې ان سترګې يې ترې داسې سرې ښکاريدې چې تا به ويل دوينوڅپې په کې اوړي را اوړي ، دجواهرسنيګ خو ټول بدن سره لړزيده ، دګل محمد لاس دخپلې توري په موټي باندې داسې خوځيده چې که دهغه په وړاندې دخپلې (ماراني صاحبې ) ددرناوي اوادب خبره نه وای نودده له توري ايستوسره سمه به يې دايلس سينه په خپله توره سره دوه پړکه کړې وای .

د دربار دغه اکر ايلس سخت سره وداراوه ، درګهونات سينګ ، بهاوبخشي ، غلام غوث خان اوجواهرسينګ دوی ځيرې دده په وړاندې وې ، ده ورته کتل ... دګل محمد ځانګړې اکر ، اوځيره هم دده دسترګو په وړاندې وه ...خوهغه ديخوملکو اوسيدونکې لوړې زده کړې کړې وې ، دروانپوهنې زده کوونکي و، دځيرواوخويونوپيژندنه دده کارو، په ارادو باندې ښه پوهيده ، هو، په دې پوهيده چې خپلې خبرې په کومه ژبه اوکوم شان سره وکړي... اوهغه دغه حالت ته هم کتل چې د رانۍ دربار نابېره لکه دمچيوځاله  داسې په خوځيدو شو، ځکه نوده په خورا نا پيلي اونااندوله ژبې سره وويل :

- زه يومعمولي افسريم ، مسترمالکم چې ماته دګورنرجنرال کوم حکم راکړی و،ما هغه تاسې ته در واوراوه ، زماپه باره کې تاسې ټول ښه پوهيږئ ... چې زه تل دجهانسي دوست وم ...خوزه څه کولای شم ؟ قانون کمپنی جوړکړی اوموږ ټول دکمپنی غلامان اوتابعداريو، زماچې څه له لاسه کيدل ، ماخوتول په پوره توګه ترسره کړل ، دازماسپارښتنه وه چې د رانۍ صاحبې له پاره مې دمياشتې پنځه زره روپۍ دپنشن په توګه پرې وټاکلې ،زه پوهيدم چې درانۍ صاحبې اودهغې دکورنۍ له پاره پنځه زره روپۍ بس دي .

خوداخبره لاپای ته نه وه رسيدلې چې دپردې له شا يوتيزاواوچت غږ په درباركې په انګازو شو:

- زه پنشن نه غواړم ... زه خپله جهانسي غواړم ...

ددغه اوچت آواز په اوريدو سره ايلس يواوړد اوسيلی راويوست او اوچت ودريد ، په خواشينۍ توګه يې خپل سروښوراوه اوپه وړو وړو قدمو له درباره ووت .ان ترهغوچې له کلا ووت په خپلې ځيرې اوحرکتوسره يې دابښوده  چې ګواکې داځه چې وشول اوداځه چې ده وويل ، اوهغه څه چې ده ولیدل هغه کړده ده ته يورنځ او درد وو. په دې چې ده دلته يوه خورا بدمرغه اوناوړه دنده ترسره کړې وه .

خوله کلانه څخه له راوتوسره سمه دهغه ځيره بيرته پرخپل حال شوه ،هغه اوس خوشاله و، پردې چې دچاله لاسه پرده باندې له يوې خواهم کومه بلارانازله نه شوه اونه هم دچاله خواکوم توپان پرې راغبرګ شو.

يوساعت وروسته درباراپای ته ورسيد، رانۍ خپلې کوټې ته لاړه ، پنځلس دقيقې وروسته دهغې سهيلۍ سندربايي خبرراووړ چې ګل  محمد له هغې سره کتل غواړي، رانۍ ګل محمد خپلې کوټې ته ور وباله .ګل محمد کوټې ته ورننووت ، په داسې حال کې چې سترګې يې ځمکې ته اولاسونه يې ترلې سره نيولې وو، درانۍ په مخ کې په درناوي سره ودريد ، اورانۍ په خپل نرم غږکې ترې وپوښتيل :

- ګل محمدخانه څه خبره ده ؟

- مارانۍ ساب ...

ګل محمد په خپلو ويلوکې سره غراندی شو،او ودريد .. خورانۍ يوځل بيا په خپل نرم آوازکې پوښتنه ترې وکړه:

- وايه څه وايي اوڅه غواړې ؟

خوګل محمد داځل بې له ځنډه ورته وويل:

- حکم  !

- حکم !

رانۍ يوځه سره تلولۍ شوه :

_کوم حکم ، دڅه شي حکم ؟

ګل محمد ورته وويل :

_ ددغه سپين يږ ايلس دسرو هلو حکم  !

هو، ددغه سپين يږ ، سپين خنزير .... !

پاتې لري



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ